د کابل مجلې ګڼه

ګڼه ۱۴۸ - مخ ۲۳ - سرطان ۱۳۲۲ - جون ۱۹۴۳

# د خوښۍ دنیا په خوب وینم !

ښاغلی محمد رسول خان (پښتون)
له پلخمرۍ څخه

ما ته خوب نه راتلی او هره شپه مې زړه غورځی د طپش او اضطراب په علت نه پوهېږم خو زه پر ځان تکلیف کوم بیدېږم د دې د پاره چه د غفلت څخه کار اخلم یعنې هغه خوازه او تصوری اشکال او خیالونه چه د وینښې په وخت کښې نشو هم بلل کېږي د خوب په وخت کښې عملی شی، پو وخت و چه زه ویده وم زمونږ د کوره سره نژدې په باغچه کښې ګلاب غوړېدلی و سره و کې لطیفه هواوه سها رو د کوره څخه راووتم لمر ښه را پورته شوی و د شبنم څاڅکی (لکه د غاړې د هار دانې چه د ځلېږی) د ګلانو و پښو ته پرېوتی وی، په دې باغچه کښې بو داسی کیفیت و چه زه اوس د هغه څخه تعبیر نشم کولای - خو دغو نه قدر مې په یاد دی چه په هغه باغچه کښې نور ګلان هم غوړېدلی و، او و نو تازه پاڼی غوړولی او ځای پر ځای ئې سوری خپاره کړی و - زما په نظر کښې دا تول شیان مست راتله او زه لکه پو مخمور غوندی سری چه و دی محفل ته را بللی شوی وم د ګلانو وږمې مې لکه د مستانو د خولو رائحه پر د ماغ

ښه لګېده - په هغه وخت کښې د ماسره خوشی ګډی و دی اندېښنی نه وی ملګری، تول شیان می په ستر ګو کښې مقدس او منزه وه تول شیان زما په نظر کښې همیشه، او د مرګ او رنځ د عیب څخه پاك ښکارېده تولو شیانو و ما ته خندل: که به چېری ما مقابلةً بالمثل ونکړه نو دوی به دا زما ناز باله و غېږ ته به ئې رځیکښېلم لنډه ئې دا چه دوړ کتوب په دوره کښې پو پټ رمز پروت و خو که پر هغه حال پا نه شوی وای اوس به د خوب په وخت کښې ما پر ځان تکلیف نه کولای.

برائی می خوب لیدچه په پوه زرغونه بڼ کښې دوړو همزولو سره ګرزم په دې بڼ کښې هر دول پټی جوړ شوی. او ګلان غوړ ېدلی وی ونی په شنو پاڼو پټی وی په دې ونو کښې سری وژړ ی چغو کی د یو ې څانګی و بلی څانګې ته الوزی او پخې میوی په مشو کووهی را لوېږی مونږ تر سیوری لاندی دولې پر غاړه ناست یو څر نګه چه دو نو څخه دانې را لوېږی مونږ هر یو کوښښ کوو چه هغه تر نورو ملګرو

وړاندی دمځکی ښخه واخلو اوداد وړاندی اخستل نویولوی بری ګڼو ـ پدې لوبه کښې داسی تاوده راغلی بوچه خبر نه یوښه مها ل شوی دی ؟ دلته نابوبره‌یو ناڅاپه زغ کیږی چه زمونږدتو لوتوجه وځان ته را ګرز وی که ګورو مالیار دی وائی : وخت تیر د ی راځئ چه‌د باغ دروازه تړله کیږ ی ـ دا وینا پرمونږ ډیر تریخ‌اثر کوی او خواماتی راولاړشوی‌دباغ ښخه‌راوزو دباندی‌په‌خورا ارمان‌سره‌جلا کیږو اوزه دخپلی‌ژړا په‌زغ دخوب ښخه راپاڅیږم .

اوس دهغې خوزې مینی اوآ سانه بر ی ( موفقیت ) آرزودیوه‌یلوه‌اودخوزو سپېڅلو همزولو فراق دبله یلوه‌بیرته‌ماالړباسی‌چه‌بیده شم. مګر کله. . . . . اوچیر ی . . . .خوبو نه هم پریوه حال ندی دخوشحال او خپه سړی خوب‌فرق‌لری ـ اوخوب‌هم‌علی‌الا کثر دوینبی دحالت اشباح وی ـ مګر په هرحال سره دا ارمان دهغه چا ترسره کیږی چه‌په سپېڅلی روح اوخوشحاله زړه‌دهمزولوسره‌ژوند کوی اودا دابدیت تجلی‌پرهغه چا کیږی‌چه‌ژوند ئې دصداقت ، او صمیت سره توأم وی .